**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د یهودو رژیم، د مسلمانانو حکامو، د دوی استعمارگرو ملاتړو او د مسلمانانو پوځونو ته پیغام!

**(ژباړه)**

هغه څه چې اوس په غزه کې روان دي، یو بشپړ جنایت دی!

امریکا له یهودو څخه د ملاتړ لپاره جنگي بېړۍ استوي، اردوغان د تښتېدلو یهودانو هرکلی کوي او هغوی ته پناه ورکوي، سیسي د رفح سرحدي دروازه تړي او د اردن رژیم د یهودو د ملاتړو قدرتونو د الوتکو پر مخ هوایي ډگرونه او اډې پرانیزي، خو د فلسطین او اردن تر منځ نښلوونکی پل بیا تړي! د یهودو رژیم پر غزې تړانگه اوبه، برېښنا او سون توکي بندوي او د سپین فاسفورس او توغندیو په واسطه یې ټوټه ټوټه کوي، چې د همدې بمبارۍ او له وحشته ډک تیري په پایله کې زموږ سلگونه کسان په غزه کې ټپیان او شهدان شوي دي.

د دغه ناوړه جنایت پرمهال چې جنایتکار صهیونستان او د دوی ملاتړې امریکا او د هغې ولاء یعنې د مسلمانانو حکام او رژیمون یې ترسره کوي، داسې وایو:

**اې د یهودو ډارن رژیمه!**

ته په خپلو ټانکونو سره گلان ماتولی شې؛ خو هېڅکله د پسرلي راتگ ځنډولی نه شې!

**اې جنایتکار رژیمه!**

ته په غزه کې په خپلو ټانکونو سره زموږ خلک لاندې کولی شې؛ خو هېڅکله د نبوت پر منهج د راشده خلافت راتگ ځنډولی نه شې! یوازې پینځه سوه مجاهدین په دې توانېدل چې تاسو له وحشت او مصیبت سره مخ کړي؛ نو د امت طوفان، چې رهبري به یې د نبوت پر منهج دویم راشده خلافت دولت کوي، څه ډول وي؟

**اې ظالم سیسي او اې د امریکا مزدوره!**

ته د غزې د خلکو پر وړاندې د رفح سرحدي دروازه تړلی شې؛ خو د هغه نصرت مخه نه شې نیولی، چې د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت د تاسیس په واسطه او د الله سبحانه وتعالی په غوښتنه به ژر راشي او ستا له سر څخه به شیطاني وسوسې وباسي!

**اې ملک عبدالله ثاني او اې د انګلیس مزدوره!**

ته د اردن او فلسطین تر منځ پل بندولی شې او زموږ خلک په فلسطن کې له منځه وړلی شې؛ خو هېڅکله د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت تاسیس ځنډولی نه شې؛ هغه خلافت چې ستا د پلورونو او نیکونو هغو خیانتونو ته به د پای ټکی کېږدي، چې د اسلامي امت، د فلسطین د خلکو او د هغوی د مقدساتو په حق کې یې ترسره کړي دي!

**اې د سوریې ظالم او جنایتکاره او اې د امریکا سپیه!**

ته زموږ خلک په شام کې له منځه وړلی شې؛ خو هېڅکله د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت تاسیس ځنډولی نه شې؛ هغه خلافت چې ستا تاج او تخت به ونړوي او د الله سبحانه وتعالی په غوښتنه به اسلام یو ځل بیا په خپل پخواني شان و شوکت سره د شام هرې برخې ته را وګرځوي!

**اې هغو حکامو او رژیمونو چې اړیکې عادي کوئ!**

تاسو له امت سره خیانت کولی شئ او له دښمنانو سره یې اړیکې عادي کولی شئ؛ خو هېڅکله د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت راتګ ځنډولی نه شئ؛ هغه خلافت چې ستاسو د کمزورو رژیمونو بنسټونه به چې انګلیس او استعمارګرانو درته جوړ کړي، له منځه یوسي!

**اې اسعمارګرو او بې‌کسو کفارو!**

تاسو د خپلو ګټو او مصلحتونو لپاره د یهودو له رژیم او په زموږ په خاورو کې له ظالمو حکامو څخه ملاتړ کولی شئ؛ خو هېڅکله د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت تاسیس ځنډولی نه شئ؛ هغه خلافت چې زموږ په خاورو کې به ستاسو استعمار او لوټلو ته د پای ټکی کېږدي، زموږ په تصمیمونو کې به ستاسو فیصلې ختمې کړي او تاسو به زموږ له خاورو څخه د الله سبحانه وتعالی په غوښتنه په ذلت او مایوسۍ سره وشړي!

موږ تاسو ټولو ته وایو، اوس چې هر څه غواړئ، ویې کړئ؛ ځکه زموږ د امت پسرلی به حتمي راځي او خلافت؛ زموږ عزت او زموږ د رب نظام دی او همدارز ستاسو د لوبو او چلونو پر وړاندې اوسپنیزه کلا ده، موږ ستاسو له استعمار څخه خوندي کوي او زموږ مال ستاسو له لوټلو څخه ساتي.

**مګر اې د مسلمانانو لښکرو! تاسو ته داسې وایم:**

تاسو د ویدو زمریانو په څېر په خپلو نظامي اډو کې چوپ پاتې کېدلی شې او له هغو پېښو څخه سترګې پټولی شئ، چې غزه، اقصی او ستاسو فلسطیني ورونه ورسره مخ دي؛ خو د قیامت په ورځ د الله سبحانه وتعالی پر حضور کې له ذلت او خوارۍ څخه ځان نه شئ ژغورلی؛ هغه ورځ چې له تاسو څخه به د فلسطین، غزې او د هغوی د ماشومانو، ښځو او سپینږیرو په اړه ستاسو د بې‌غورۍ او بې‌پروایۍ پوښتنه کېږي! نو پاڅېږئ او حرکت وکړئ! الله سبحانه وتعالی دې پر تاسو رحم وکړي او هغه سبحانه وتعالی ته له خپل ځان څخه خیر ښکاره کړئ! ټول د جهاد لپاره را ووځئ او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د هېڅ ملامت کوونکي له ملامتیا څخه مه وېرېږئ! له خپلو خاینو حکامو څخه نافرماني وکړئ او امر ته یې غاړه مه ږدئ او له خپل امت سره مرسته او نصرت وکړئ، ترڅو له دردوونکي الهي عذاب څخه وژغورل شئ او له رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه له مجاهدو اصحابو رضی الله عنهم سره په جنت کې د تل لپاره یو ځای شئ!

﴿**يَوْمَ لَا ينفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ (88) إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ**﴾ [شعراء: 88 و 89]

***ژباړه:*** *هغه ورځ چې مالونه (یعنې مادي ځواک) او اولادونه (انساني ځواک) به ګټه نه کوي؛ بلکې یوازې هغه کس (ژغورل کېږي چې خپل مالونه یې د الله په لاره کې لګولي وي او خپل اولادونه یې د الله په لاره کې جهاد ته لېږلي وي) ګټه کوي، چې په سالم زړه (له کفر، نفاق او ریا څخه پاک) سره د الله حضور ته راغلی وي.*

په پای کې خپلو هغو مجاهدو وروڼو ته چې په غزه کې دي، وایم: الله سبحانه وتعالی دې تاسو ته د خیر بدله او برکت درکړي او ستاسو زړونه دې ګرم او خوشاله کړي؛ لکه څنګه چې تاسو د ټول امت زړونه ګرم کړل! الله سبحانه وتعالی دې ستاسو د شهیدانو روحونه خوشاله او مبارک کړي او ستاسو دردونه دې ارام کړي او هر چا چې تاسو ته شا کړې، الله یې دې خوار او ذلیل کړي او الله دې له تاسو سره په دغه ابتلاء کې مرسته وکړي! زموږ وژل شوي کسان په جنت او د یهودو وژل شوي په دوزخ کې دي. تاسو ښه پوهېږئ چې د ټولو مسلمانانو زړونه ستاسو د نصرت او خلاصون لپاره ټوپونه وهي؛ مګر د استعمارګرو مزدور حکام نه پرېږدي، چې امت له تاسو سره مرسته وکړي او پوځیان د غزې او ټول فلسطین د نصرت لپاره د حرکت کولو مخه نیسي؛ خو تاسو ته زېری درکوم، هغه نصرت چې تاسو په فلسطین کې له یهودو سره په جګړه کې پیل کړی، په نږدې وخت کې به له فلسطین څخه بهر د الله سبحانه وتعالی په غوښتنه د اسلامي دولت په تاسیس سره په یوه قوي نصرت بدل شي او هغه مهال که فلسطین په څو ساعتونو کې ازاد نه شي، خو په څو ورځو کې به حتمي ازادېږي. الله سبحانه وتعالی دې تاسو ته صبر او استقامت درکړي او د دښمن په ماتولو سره دې تاسو ته نصرت درکړي! آمین!

**لیکواڵ: فرج ممدوح**

**ژباڕن: صهیب منصور**